Institut National du Cancer

RÉPUBLIQUE FRANÇAISE
*Liberté*
*Égalité*
*Fraternité*




# خوندي او اغېزمن واکسين ځو زما ماشوم د HPV له امله د سرطانونو پر وړاندي خوندي وساتل شي.

**که ستاسو ماشوم د پنځم ټولګي زده‌کوونکی وي، ستاسو په اجازې سره:**

- **هغه به د واکسين دوه ډوزه ترلاسه کړي چې د ۵ څخه تر ۱۳ مياشتو په واټن سره ورکول کېږي؛**
- **تا سو به د دې واکسين لپاره هېڅ لګښت ور نه کړئ؛**
- **د HPV واکسين کېدای شي د مېنينګوکوکي واکسين سره يوځای ترسره شي، چې هغه هم په ښوونځي کې وړيا ورکول کېږي.**

**تر اوسه په ۸۰ هېوادونو کې له ۱۰۰ ميليونو څخه زيات ماشومان او تنکي ځوانان د HPV پر وړاندي واکسين شوي.**

**د نورو معلوماتو لپاره،**
**له خپل ډاکتر يا بل روغتيايي متخصص سره مشوره وکړئ يا دې انټرنټ‌پاڼې ته مراجعه وکړئ.**
**vaccination-hpv.cancer**

.Ne pas jeter sur la voie publique – INCa – SIREN : 187 512 777 – Décembre 2025 – DEPVACCHPVEN2512 – AUSTRALIE

# واکسين په عملي توګه

## زما ماشوم بايد کله واکسين شي؟

**له ۱۱ کلنۍ څخه د خپل ماشوم واکسين کول پيل کړئ،**
**ځکه په دې عمر کې واکسين تر ټولو اغېزمن وي.**

که زما د ماشوم عمر:

- له ۱۱ تر ۱۴ کلونو پوري يوازي دوه ډوزه واکسين ته اړتيا لري؛
- له ۱۵ تر ۲۶ کلونو پوري (د جبراني واکسين): درې ډوزه واکسين ته اړتيا لري.

**د يادونې وړ: له دې فرصت څخه ګټه واخلئ او کله چې ستاسو ماشوم د dTcaP* واکسين لپاره، چې د ۱۱ او ۱۳ کلونو ترمنځ يې سپارښتنه کېږي يا د مېنينګوکوکي واکسين لپاره، چې د ۱۱ او ۱۴ کلونو ترمنځ يې سپارښتنه کېږي مراجعه کوي، په هماغه وخت کې د HPV واکسين يو ډوز هم ورکړئ.**

* واکسين د ډيفتري (D)، تيتانوس (T)، بې‌حجروي تور ټوخی (Ca)، پوليو يا د ماشومانو فلج (P) ناروغيو پر وړاندې ساتنه برابروي.

## زما ماشوم څنګه واکسين کېدای شي؟

د نجونو او هلکانو دواړو لپاره، لاندې روغتيايي متخصصينو ته مراجعه کولئ شئ:

- ډاکتر
- قابله
- فارمسست
- نرسه
- د ښاروالۍ يا ولايت د واکسين خدمت يا واکسين مرکز

(د لا زياتو معلوماتو لپاره له خپلې ښاروالۍ يا د ولايت له اداري سره اړيکه ونيسئ).

## د واکسين احتمالي جانبي عوارض کوم دي؟

تر ټولو عام جانبي عوارض چې د کلينيکي څېړنو پر مهال ليدل شوي، د نورو واکسينونو د عوارضو په څېر دي، لکه: د ستنې د ځای سوروالی؛ (د ستنې د ځای درد؛ د ستنې د ځای پړسوب يا التهاب)؛ سر درد؛ سر ګرځېدل؛ تبه. په لږ شمېر مواردو کې، لاندې عوارض هم رامنځته کېدای شي: حساسيتي (الرژيک) غبرګونونه؛ بې‌حالي يا ناڅاپي بې‌هوښي، چې کله ناکله د هوش له لاسه ورکولو سره هم مل کېدای شي.

په عمومي توګه، دا جانبي عوارض سپک يا منځني وي او د لنډ وخت لپاره دوام کوي.

## د HPV واکسين لګښت څومره دی؟

- ستاسو د روغتيا بيمه د واکسين د هر ډوز ۶۵ سلنه لګښت ورکوي.
- پاتې لګښت معمولاً د تکميلي روغتيا بيمې (Mutuelle) له خوا تاديه کېږي. په ځينو ښاروالیو او ولايتي واکسين مرکزونو کې، واکسين په بشپړه توګه وړيا هم وي.
- هغه کسان چې د Complémentaire Santé Solidaire (CSS) يا د دولت د طبي مرستې (Aide Médicale d’État) څخه برخمن وي، د واکسين لپاره هېڅ پيسې نه ورکوي.

# زه د HPV له امله رامنځته کېدونکو سرطانونو پر وړاندې د واکسین په اړه معلومات ترلاسه کوم

## ولې باید خپل ماشوم واکسین کړم؟

د HPV پر وړاندې واکسین دا مهال د هغو HPV انتاناتو تر ۹۰ سلنې پورې مخنیوی کوي چې د سرطان لامل ګرځي.

ددې واکسین سپارښتنه د نجونو او هلکانو دواړو لپاره کېږي او د لاندې ناروغیو پر وړاندې ساتنه برابروي:

- د رحم د غاړې (سرویکس)، فرج (Vulva)، مهبل (Vagina) او مقعد د سرطان څخه مخکې بدلونونه او/یا سرطانونه؛
- هغه غیرسرطاني، خو دردناکې د پوستکي او مخاطي غشا زېږېدنې (زګیلونه) چې د مقعد او تناسلي سیمې په پوستکي یا مخاطي غشا کې راڅرګندېږي (د تناسلي او مقعد شاوخوا زګیلونه).

## یو خوندي او اغېزمن واکسین

**له تیرو ۱۵ کلونو څخه په زیاته موده کې په ټوله نړۍ کې تر ۳۰۰ مېلیونه زیات دوزونه کارول شوي دي.**

**دا واکسین په نړیواله کچه تر سختې او دوامدارې څارنې لاندې دی.**

**د HPV واکسینونو پراخ استعمال، په ګڼو هېوادونو او نړیواله کچه د خوندیتوب د څارنې پروګرامونه، او د ځانګړو علمي څېړنو پایلې، ټولې دا څرګندوي چې دغه واکسینونه د خوندیتوب له پلوه ډېر غوره سابقه لري، او دا موضوع د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) له خوا هم تائید شوې ده.**

د بېلګې په توګه، تر اوسه هېڅ علمي څېړنې دا نه ده ثابته کړې چې د HPV واکسین او د ځان‌معافیت (Autoimmune) ناروغیو ترمنځ کومه اړیکه شته.

د HPV واکسین اغېزمنتیا په هغو هېوادونو کې په څرګنده توګه لیدل شوې چې د واکسین شویو تنکیو ځوانانو شمېر پکې لوړ دی،

لکه استرالیا، چیرې چې د رحم د غاړې د سرطان، د سرطان څخه مخکې بدلونونو، او همدارنګه د ښځو او نارینه وو په دواړو کې د تناسلي او مقعد شاوخوا زګیلونو شمېر د پام وړ کم شوی دی.

# زه د انساني پاپیلوما ویروسونو (HPV) په اړه معلومات ترلاسه کوم

## HPV څه شی دی؟

**HPV هغه انساني ویروسونه دي چې پاپیلوما ویروسونه بلل کېږي.**
د ژوند په اوږدو کې شاوخوا ۸۰ سلنه ښځې او نارینه له دغو ویروسونو سره مخ کېږي.
د HPV ډېری انتانات معمولاً په څو میاشتو کې په خپله له منځه ځي، خو په لږ شمېر کسانو کې ویروس په بدن کې پاتې کېږي او وروسته په ناروغۍ بدلېدای شي.

## د HPV ویروسونو او سرطان ترمنځ څه اړیکه شته؟

د HPV نږدې ۲۰۰ بېلابېل ډولونه شته، چې ځینې ډولونه د سرطان څخه مخکې بدلونونو او سرطانونو د رامنځته کېدو لامل کېږي.
همدارنګه، HPV ویروسونه د تناسلي او مقعد شاوخوا زګیلونو د رامنځته کېدو مسؤل هم دي.

## د HPV ویروسونه څنګه سرایت کوي؟

دغه ویروسونه د تناسلي غړو د پوستکي یا مخاطي غشا د مستقیم تماس له لارې سرایت کوي یا لېږدېږي. دا انتقال ډېری وخت د جنسي اړیکو پر مهال، له دخول سره یا پرته له دخول څخه، رامنځته کېږي

**په فرانسه کې هر کال د انساني پاپیلوما ویروسونو له امله ۷،۱۳۰ نوي د سرطان پېښې رامنځته کېږي.**
که څه هم د HPV پورې تړلي سرطانونه تر ډېره په ښځو کې لیدل کېږي، نږدې ۳۰ سلنه یې په نارینه وو کې هم رامنځته کېږي.

په فرانسه کې د HPV له امله ښځو او سړیو ته رامنځته کېدونکي ناروغۍ. (د سرطان څخه مخکې بدلونونو او د تناسلي او مقعد شاوخوا زګیلونو شمېرې د Shield او همکارانو (۲۰۱۸) او Hartwig او همکارانو (۲۰۱۵) د څېړنو پر بنسټ اټکل شوې دي.)

| | سړي | ښځې |
|---|---|---|
| د تناسلي غړي (ذکر) سرطان / د فرج (Vulva) او مهبل (Vagina) سرطانونه | ۲۰ | ۲۵۰ |
| د مقعد سرطان | ۴۵۰ | ۱۴۰۰ |
| د ستونې، اوروفارنکس، حنجرې او خولې سرطانونه | ۱۵۳۰ | ۴۸۰ |
| د رحم د غاړې (سرویکس) سرطان | — | ۲۹۰۰ |
| د فرج، مهبل او مقعد د سرطان څخه مخکې بدلونونه | ۱۳۰ | نږدې ۲۵۰۰ تر ۳۰۰۰ |
| د رحم د غاړې د سرطان څخه مخکې بدلونونه (CIN 2+) | — | نږدې ۳۰۰۰۰ |
| د تناسلي الې او مقعد شاوخوا زګیلونه | نږدې ۵۰۰۰۰ | نږدې ۵۰۰۰۰ |